د سالنګ په لومړۍ برخه کې د قیر سوی سړک پر غاړه د خنجان ښایستی ودانۍ

۱۳۴۰/۹
12/1961

دستر و پښتنو پاچهانو او نامتو شخصیتو ویناوی

تو له پښتانه یوشان دی زما په دربار کی د قبیلو ذکر مه کوی . [سوری شیرشاه]

د بې زړه سره مشوره کول کټ مټ بې زړه توب دی . [میرویس خان]

د پښتون د توری بر پښناده چی د دښمن سترګی ورړندوی . [شاه محمود]

د زړه ګل بهمی له خاور و څخه هلته سر راپورته کی چی د خپل هیواد د غرو شمال ځنی و موښلی .
[داوی احمدشاه بابا د یوه شعر مضمون]

زما د همت په نظر توله جهان لکه د پرکار کوچنۍ دائره داسی ایسی . [تیمور شاه]

هر چیری چی ئې د خدای یاد د بل چا په تعلق مه هېروه . [سردار مهردل خان مشرقی]

پښتون ولس د زړه قوت، عزت نفس او لوړ مزاج ودې ته واداره کړی دی چی د پردو تر سلطې د شرف و مرګ ته ترجیح ورکی .
[سید جمال الدین]

زما نصیحت همېشه دادی چی پښتون دی یو خپل کور جوړ کی . [خان عبدالغفار خان]

ددې ګڼې مضامین

د ټولنو تحول	په [۱] مخ کی	توماس اډیسن	په [۱٤] مخ کی
دعا پیریانو نکلو نه	« [۳] « «	غوړه مال شاعر	« [۱۵] « «
پوهان وائی	« [٤] « «	د پښتانه مرګ	« [۱٦] « «
هیګل او مارکس	« [۵] « «	کوچۍ پېغله	« [۱۸] « «
هلن کلر	« [۷] « «	زړه می څه غواړی؟	« [۱۹] « «
کلاسیک څه شی دی	« [۹] « «	قلندر	« [۲۰] « «
د ناوی د خوب ځای	« [۱۰] « «	قطب مینار	« [۲٤] « «
		د روښانیانو مجاهدې	« [۲۸] « «

مسئول چلوونکی
ا، م «کرزی»
اداره دشهیدانو واټ
[ددولتی مطبعې څنګ ته]

کندهار

میاشتنی خپرونه
ادبی. تاریخی. اجتماعی. علمی

کالنی «بیه»
په کندهار کښی [۲۸] افغانی
په دننه مملکت کښی [۳۲] «
په دباندنیو هیوادو کی یو ډالر

گڼه [۹] لمریز کال ۱۳۴۰ د قوس [۱] دمیلادی کال ۱۹۶۱ دنومبر [۲۲] پرله پسې گڼه [۲۱]

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
18 MAR 2005
6 CONTINUATION 6

د ټولنو تحول

تحول یاله یوه حال څخه و بل حال ته اوښتل د طبیعت یو نه ماتېدونکی د ودمی دائره یا کارگاه کښی دهرشی بڼه بدلیږی او د کائناتو په ټولو مظاهرو کښی څرگند تحولونه راځی . د جهان په نندارتون کښی هر کله د لوبو نندارہ سره اوړی او د تصویر بېل ارخونه یه جلا پېڅول کښی ځان ښکاره کوی .

داځکه چی په جهان کښی حرکت موجود دی او د حرکت سره بدلون هم ملگری دی که چیری د تحول دود د کائناتو یه مظاهرو کښی بهانده نه وای نو ټولی چاری به برځای باندی تپی ولاړی وای، نه به د انسان تکامل په برخه شوی وای او نه به د پوهنی او تمدن کاروان خپل منزل ته رسېدلی وای !

داچی موږ د تحول دود د کائناتو په ټولو چارو کښی منو نو انسان خو هم د طبیعت په اورشو کښی یو ښایسته مخلوق دی، آیا د انسان فردی او اجتماعی ژوند هم له یوه حال څخه و بل حال ته اوړی ؟ او که نه د انسانی ژوند کاروان پر یوه حال باندی او په یو منزل کښی ولاړ دی .

څرنګه چی موږ د طبیعت په جهان کی حرکت وینو نو سم ورسره د تحول احساس هم کوو. انسان څرنګه چی د طبیعی سننو تابع دی نو ځکه دده په ژوند کښی هم تغیر او بدلون ښکاره اغېزه لری او د جهان پر دې دود اولاړ سیخ روان دی .

کله چی موږ په انسانی ژوند کښی بدلون و ماته نو به تاریخی لاسوند یو (اسناد) ته مخ واړو او د پخوانیو ټولنو او ارغونو قومونو خو ځېدل او تحول به ووینو چی له کوم حال څخه ئې د ژوند و کومی مرحلې ته یون (حرکت) کړی دی د اجتماعیاتو پوهان وائی: چی په لومړی سر کښی انسانانو د غرونو په غارو کښی ژوند کاوه و روسته تر ډېرو پېړیو او راز راز و پېښو څخه د ژوند په شپون توب سره واوښت د لته انسانانو غرنی څاروی رام کړل او له دې لاری څخه به ئې خپل ژوند کاوه د مالداری په دې دوره کښی له یوه ځای څخه و بل ځای ته لېږدېدل باب شول او مهاجرتونه سم ورسره پیدا شول ؛ د

انسانی ژوند پردې مرحلې هم ایړونه (زمانې) تېرشول څو د کرهڼې دوره راورسېده پدې راز ژوند کښې انسانانو د کښت چل زده کړ او له دې لارې څخه ئې خپل چلاو کاوه د کرهڼې په دوره کښې څرنګه چې انسانان په یوه ټاکلی ټاټوبی کښې سره راغونډ شول نو ملکیت هم منځ ته راغی او معاملې پر اختیا وموندلې ددې راز ژوند سره شخړی او دفکر بېلوالی هم ډېر شو نو ځکه قانون منځ ته راغی څو د کمزورو حق له ظالم څخه واخیستل شی او امنیت وساتل شی د قانون په رونما او دانتظام په سیوری کښې د اجتماعی ژوند دانندارہ هم پای ته ورسېده، بشری کاروان پرمخ ولاړی ساینس ترقی وکړه، ښارونه جوړ شول او صنعت و زیږېدی دعلم او پوهنی لمن پراخه شوه او د ژوندانه په چارو کښې د ورا تحولونه راغلل انسان وتمدن ته راشیوه شو او د یوه نوی تهذیب خاوند وګڼل شو.

دتمدن پردې دوره هم پېړۍ تیری شوې او انسانی ژوند په هره برخه کښې د تکامل په خوا اوچت ګامونه واخیستل د ژوند بڼه الیشه سوه، دفکر او ذوق لاری بېخی سره واوښتلې، صنعت او بشری پوهه دومری زیاته شوه چې د بحرونو تل ته ورننوتل او فضائې ترخپل لاس لاندی راوستله.

دنړۍ ټول هیوادونه یوله بل سره خورا نژدې شول او د نویو اختراعاتو له برکته لکه: تیلفون، تلګراف، راډیو دنیا د یوه کور شکل غوره کړ، نور نو نه انسان په یوازیتوب سره ژوند کولای سی؛ او نه یوه ټولنه د نورو هیوادونو له معاملې څخه ځان ګوښه کولای شی. دا ځکه چې وخت او زمان تغیر وکړ او اجتماعی شئون له یوه حال څخه وبل حال ته واوښتل. د ژوند په داسی مرحله او د ټولنو په داسی بدلون کښې هر قوم ته لازمه ده چې خپل وروسته پاته کېدل جبیره کړی او د تمدن ولوړ پوټی ته ځانونه ورسوی د یوې ټولنی افراد هغه وخت خپلی نیمګړتیاوی بشپړ کولای شی چې علم زده کړی او دعلم په رونما کښې دوحدت لاسونه سره ورکړی او د ګډ کار او زیار په سیوری کښې خپلی دندې په پاکه مینه او صداقت سره سر ته ورسوی که چیری د یوې وروسته پاتی ټولنی د افرادو په منځ کښې ځان ځانی موجوده وی او د شخصی ګټی دپاره پر اجتماعی منافعو سترګی پټوی نو هغه جامعه هیڅکله د ترقۍ او تمدن و کاروان ته رسېدلای نه شی او نه ئې د ژوند په چارو کښې سمون او ښه والی راځی د یوې ټولنی د پرمخ تګ او مدنی انتظام لومړی پیلامه داده چې د ولس هرسړی د جامعې په ګټه کښې خپل خیر وپلټی او د جامعې ضرر د ځان تاوان وبولی که دا فکر په یوه ټولنه کښې پیدا شی نو دی د ترقۍ او ښاغلتیا هم مبارک شی.

ا.م «کرزی»

دانسانی فولکلوریوه عامه برخه
د کالج ایسیز څخه د ښاغلی
«غروال» ژباړه

نکلونه د شاپیریانو

هر ولس یو شمېر پیریانی نکلونه لری، او ددې نکلو لویه برخه خورا قدیم تاریخ لری.

له هغه وخت څخه چه خلکو په ابتدائی ذهنیت د پیریانانو پر قوت او وجود عقیده درلوده، نو دا نکلونه باب سوی دی.

د شاپیریو یو شمېر نکلونه چه د ډېرو ښکلاؤ سره بیانیږی اکثراً د یونان څخه نورو ځایو ته خپاره سوی دی.

دا نکلونه خورا ډېر دی چه مشهوره ئې طلائی وېښتان ډېر شهرت لری.

جرمنیان هم دا ډول نکلونه لری، او یو جرمنی لیکونکی هغه سره ټول کړی د «کریم» نوم ئې پرایښی چه د «شاپیریانو نکلونه» هم نومیږی.

انګلستان هم دا ډول قیصې لری او هندوستان خو نو په خاص ډول د داسې نکلو څخه غنی دی.

په همدې ډول الف لیلا چه په لوېدیځ کی په «اربین نایټ» مشهور دی ددې ډول نکلو او زړو جادوګریو چه د ختیځ د روحیې محصول دی ډک دی.

د شاپیریانو ټوله هغه نکلونه چه نن په نړۍ کی رواج دی پخوانی نه دی او په یو څه اختلاف وروسته هم په نورو ژبو کی جوړ سوی دی.

د مثال په ډول «کندریلا» «بیدی سوی ښکلی» او «شین-زیری» قصې د یادولو وړ دی یو شمېر لیکوال په دې عقیده دی چه ددې نکلو اصل هغه وخت جوړ سوی دی - کوم وخت چه آرین ولس په متحد ډول پریوه ځای اوسېدی. او هغه وخت چه دوې په هجرت پیل وکړ نو یو شمېر ئې یورپ ته لاړل بل ئې باختر ته او بل ئې پرهند ورشیوه سوه، نو دا ؤ چه ددې قصو اختلاف هم منځ ته راغی.

دا نکلونه یو قدیم فولکلور معرفی کوی، خو په وروستنیو وختو کی هم یو شمېر داسې نکلونه لیکل سوی ی چه هغه د نوو پېړیو د لیکوالو د قلم محصول دی.

په دې لیکوالو کی چه دا نکلونه ئې په ادبیاتو کی پاللی مشهور ئې یو د ډنمارک لیکوال «هنس اندرسن» دی او په انګلستان کی «چارلس-کینګزلی»؛ «جیمز باری» او «والټر ډیلامر» ډېر معروف دی.

ددوی نکلونه لکه «داوبو کچنیان» او «پتر پان» نه یوا ځی کوچنیان په ډېره خوشالی وائی بلکه لوی خلک هم په پراخه پیمانه ددې نکلو له ویلو سره علاقه لری.

که څه هم نن څوک و شاپیریانو او د دوی وجود ته کومه عقیده نلری ولی کلیوالی خلک او اغلباً وړو کی دا نکلونه ډېر خوښ لری.

څرنګه چه ددې قصو سره علاقه موجوده ده. نو همدا اوس یو شمېر لیکونکی دا نکلونه لیکی او نور ئې هم په پوره دلچسپی لولی.

کوچنیان ځکه د شاپیریانو د نکلو سره دلچسپی لری چه میندی ئې همېشه دا ډول نکلونه دوی ته کوی او قیصې ئې خورا ښه ورته بریښوی.

څرنګه چه موږ اوس د مثبتو تجربو او مادی واقعیت په زمانه کی ژوند کوو او زموږ یکنواخته ژوند هم د ضرورت پر اساس دیو نکل یا سرنوشت دلوستلو سره علاقه لری او دا نکلونه ځکه چه پر واقعیت بنا نه دی او خیالی دنیا جوړوی نو په هیڅ ډول زموږ ذهنی احتیاج نسی رفع کولای، نو ځکه باید د نکل په لحاظ واقعی داستانونه او نکلونه د هغه پر ځای کښېښوول سی او همدا وجه ده چه مترقی خلک عموماً ناولونه چه قصه ئې د یو واقعی حادثې څخه حکایت کوی لولی او دا ټوله هم ددې له پاره چه یو ښه کیف پر بنا سی او دور ځنی کسالت څخه مو لیری وساتی.

څرنګه چه کوچنیان د نوو او عجائبو شیانو سره علاقه لری نو دوی ته د شاپیریانو نکلونه ډېر دلچسپه وی او هغه چه دوی ته دیو نااشنا عالم په باره کی څه وائی دا ددوی د ډېری خوښۍ باعث ګرزی.

د «جمیلې» عمرزی ټولونه

پوهان وایی:

دښځی غېږ د انسانیت خزانه او سړی جوړولو لومړی کارخانه ده. «ولتر»

* * *

د هغه چا سره چه ستا د آزار موجب سوی وی ښه کول شرافت دی.

* * *

محبت د محبت څخه زیږی.
«نیمه مایر»

* * *

هر څوک نژدې عیبونه لیدلای سی نو خپل عیب د هر چا تر عیب نژدې دی باید اصلاح سی.

* * *

دا جهان لکه هنداره هر څوک خپله بڼه پکښی لیدلای سی.
«چاکرای»

* * *

څوک چه تل د بل د ملامتۍ خاطره له ځانه سره ساتی د ښه زړه خاوند نه دی.

* * *

درې ډوله نشې زوره وری دی:- د دولت نشه. د ښایست نشه. د علم نشه.

* * *

درې شیان دا درې وخته پېژندل کیږی: د لاور د جنګ په وخت کی. هوښیار د قهر او غضب په وخت کی او دوست د اړتیا په وخت کی.

* * *

دولت د هغه چا دی چه خوری ئې د هغه چا نه دی چه ګټی ئې.

* * *

جهالت تر ټولو لوی حقارت او غربت دی.

* * *

لوئی مانۍ له سیوری څخه اوغټ خلک د ډېرو دښمنانو څخه پېژندلای سو.

ښاغلی محمدعلم «بشر کی»

هیګل

او

مارکس

د نولسم قرن د انقلابی خلکو وروسته پر یورپ باندی د هیګل فلسفه غلبه درلوده . د هیګل فلسفه د کانټ څخه او کانټ د روسو څخه متاثره سوی دی . د هیګل فلسفی فرد د ریاست تابع کړی ؤ ، خو ریاست وده ته یو باطنی مفهوم درلود .

د مارکس سوشلزم د هیګل د فلسفې روح واخیست او جسم ئې ورمسترد کړ .

هیګل وائی: د ترقی دار و مدار د تصور په تدریجی پوهېدو کی دی ، ځکه ټول مادی شیان د دې تصور عکس دی .

تدریجی ترقی په هره زمانه کی د تصورانو د تصادم څخه پیدا کیږی ، په هره زمانه کی غالب تصور د خپل ضد سره متصادم سوی دی . د تصادم ترهغه وخته دوام لری څو د قدیم او د جدید څخه یو نوی تصور پیدا کیږی هیګل دې تصور ته ترکیب وائی او دغه ترکیب هم پخپل وار د بل تصور سره متصادم کیږی چه په دغه توګه ارتقائی مدارج طی کیږی .

کارل مارکس او هیګل دا ارتقائی خیال په مادیت تبدیل کړی .

د هیګل په خیال په هره زمانه کی یو غالب تصور موجود وی د غالب تصور د خپل مخالف تصور سره متصادم کیږی او د دغه تصادم څخه یو نوی تصور چه د هیګل په اصطلاح ترکیب ورته ویل کیږی ، په وجود ځنی راځی . چه تر یوه خاص میعاد پوری د غالب تصور شکل اختیاروی ، وروسته دغه غالب تصور بیا د خپل مخالف تصور سره متصادم کیږی او د تصادم دا سلسله ارتقائی ده .

کارل مارکس تنها تصور کافی نه بولی بلکه اصلی وجه د اجتماع مادی حالت بولی یعنی معاشیات پر اجتماع باندی تصور پیدا کوی . دې نظریی ته د تاریخ معاشی نظریه ویل کیږی ، د دې نظریی د رویه پیدائشی ذرائع په ارتقائی عمل کی طبقاتی عمل پیدا کوی . د دغو ذرائعو په بدلون سره په ټولنه کی مختلفه تبدیلی واقع کیږی .

په یوه زمانه کی د زمینداران و اقتدار او سلطه موجوده وه ، په هغه زمانه کی د اجتماع تشکیل

د جاګیردارانو د ضروریاتو مطابق سوی ؤ، پسله هغه صنعتی او تجارتی دوره راغلهٔ، دې دورې د زمیندارانو زمانه یوه دلېونو افسانه وبلله، د نوی صنعتی سرمایه‌دارانو او زړو زمیندارانو ترمنځ د اقتدار ولاس ته درواستلو د پاره تصادم پیداسو، پدې تصادم کی نوی وزاړه طرز معیشت ته شکست ورکی. صنعتی سرمایه‌دارانو دخپل اقتدار د پاره مزدوران سره جمع کړه او وې غوښتل چه د پاره دخپل پیداوار دوی استعمال کی یعنی ګټه ځنی واخلی، د مزدورانو ددې اجتماع څخه یو نوی تحریک پیداسو چه په نامه د مزدورانو د تحریک یادیږی، دې تحریک د سرمایه‌دارانو ومخ ته د مزدورانو مطالبات وروړاندی کړه دې مطالباتو یو کشمکش په منځ کی د سرمائې او محنت پیدا کی او یو طبقاتی جنګ د دوی په منځ کی وموښتی. د مارکس په نظریه محنت ته پر سرمایهٔ غلبه حاصله ده؛ کوم وخت چه د مزدورانو دا ډله (پرولتاریه) کامیابه سی نو د چوراو چپاول د پاره به هیڅ طبقه نه وی موجوده او یو بې طبقی معاشره به منځ ته راسی او د قوم ټول ذرائع به د ټولو د مفاد د پاره استعمالیږی.

د کارل مارکس په نظریه تاریخ ټوله د طبقاتی کشمکش یو ارتقائی عمل دی.

مارکس دخپلی دې نظریې په تائید کی باید یو تاریخ لیکلی وای. خوده پردې موضوع باندی قلم ندی را اخیستی او نه تر اوسه پوری کوم بل چا پردې موضوع باندی څه لیکلی دی.

مارکس سیاست یو آزاد علم نه بولی؛ بلکه د سیاسی ماحول معاشی عکس ګڼی د مارکس موریدانو په ۱۹ قرن کی د جمهوریت اساسات په یوه قلم ور رد کړه. دوی عقیده لری چه جمهوریت تر هغه وخته یو بې معنی عمل دی تر کومه وخته چه په جامعه کی معاشی مساوات نه وی پیداسوی.

آسولډ شپنګلر

د شلم قرن دې لوی عالم پخپل مشهور کتاب د «خوب زوال» سره یورپ او امریکه وښوروله.

ددې کتاب فروش تنها په جرمنی کی یو لک ته ورسېدی. فرانسویانو ددې کتاب برخلاف لیکنی وکړی، حتی یوه فرانسوی اخبار تر دې اندازې پوری ولیکل چه د کتابو پر ورکو یوه لو دوره راګرزېدلی ده، دا کتاب ئې د دوړی سره تشبیه کی.

دا عالم که موږ یو اځی مؤرخ او یا فلسفی وبولو دا به دده توهین وی، دی پر ډېرو علومو حاوی ؤ.

دی الحاد، معاشیات، اشتراکیت د یوه ماشین پرزې ګڼی، او دغه رنګه دې دعوا لری چه موږ کولای سو چه د ګذشته د مطالعې څخه آینده تخمین کړو؛ په دې ترتیب سره دی لومړی سړی ؤ چه تاریخ ئې ولیکی دا تاریخ داسی ښکاره کېږی لکه پخوا چه لا لیکل سوی ؤ.

دی منځنی پېړۍ او نوی زمانه نه منی، دی هغه فلسفی مؤرخ دی چه د بشر مطالعه په زمان کی کوی، عیناً دا رنګه لکه

«پاته په [۸] مخ کی»

پېغله عزیزه «رشاد»

هلن کلر

د یوولس کتابو، او د سوو مقالو لیکونکی ده. نه وینی او نه اوری په ژوندانه کښی ددې د بریالیتوب راز دادی: چه دا د لویو لویو مصیبتو سره هم هیڅکله ناامیده شوې نده.

هلن کلر، ددې عصر د مشهورو ښځو څخه یوه نامتو ښځه ده. ددې په ډول بلی ښځی دا رنګه ژوندلږ کړیدی، او دغی حساسی ښځی د امریکا وټوله ایالاتو او د اروپا و هیوادونه سفر کړی په خپلو ګټورو مقالو او ښو خبرو اترو ئې په زرها و نفرونه فیض رسولی او لار ښوونه ئې کړیده.

هلن کلر په امریکائی یوه کورنۍ کښی دنیا ته راغلې، یو کال او څو میاشتی ئې خپل ژوندون د یوه طبیعی کوچنی په ډول کړی او بیا ناڅاپه ناروغه شوېده. د ناروغی څخه تر صحت وروسته ئې لیدنه، اورېدنه او د خبرو کولو «ناطقې» قوه دلاسه څخه ورکړه او ددې پاک وجود رابطه د دباندنۍ نړۍ سره پرېکړه شوه.

ددې مور او پلار د یوه عالم تأثر سره دا د ړندو و ښوونځی ته ورولېږله، او ددې روزنه او پالنه ئې د یوې انجلۍ چه «لن فاسفلاسولیوان» نومېده په لاس ورکړه؛ تر یوه میاشت کوښښ وروسته دغه زحمت ګالونکی نجلۍ په بېساری صبرو حوصله و کړای شوای چه د کوچنۍ هلن کلر په مطلب و پوهیږی او هم خپل مقصد ودې ته وروښئی پدغه ډول ئې ددې نجلۍ د روزنی او پالنی دنده پر خپلو اوږو باندی واخیسته.

هلن کلر تر نو کالو پوری نشوای کولای چه یوه کلمه خبره وکی، زده کړه ئې مخ پروړاندی تله یو عجیب لیاقت او استعداد ئې په زده کړه کی د خپل ځانه څخه ښکاره او میدان ته راویوست، لیک او لوست ئې د برجسته حروفو په توسط ولاس ته راوړ کوم وخت چه دا د ۲۱ کالو و عمر ته ورسېده ځکه چه ډېر وخت ئې په مطالعه سره تېراوه د زښت معلومات درلوونکی وه د ښوونکی (معلمې) په کومک



د پکتیا ولایت، پهخوست کی یوه عصری کلخانه

پخوا چیدمملکت پدې سیمهکی عصری تعمیراتو هیڅ وجود نهدرلود اوسئې له هرهحیثه پرمختیا لیدله کیږی چی دائې د تعمیراتی پرمخ تګ یوه نمونه ده .

دراد کلیف په کالج کی شامله شوه تر یوڅه عمر وروسته په بریالیتوب او موفقانه صورت د کالج څخه فارغه شوه د زده کړی ترحاصلولو وروسته ئې کولای شوای چه په انګلیسی ژبه کښی د یوه پردی نفر په ډول د تلفظ له حیثه خبری وکړی .

هلن کلر خپلی مقالې دهغه ماشین پتوسط چه برجسته حروف پر کاغذ باندی ایجادوی لیکی او کله چه وغواړی یوه کلمه تصحیح کړی د سنجاق پذریعه د کاغذه هغه غلط شوی ځای اصلاح کوی .

هلن کلر د لامسی دقوی حس دراوونکی ده که خپلی ګوتی دخپلوانو او دوستانو پرشونډانو باندی کښیږدی پوهیږی چه دغه سړی څه وائی د راډیو او ګرافون او نور موزیك والو زغ او دهغو اهتزازات هم د ګوتو پذریعه اوری که پنځه کاله وروسته هم یو څوك ملاقات ورسره وکړی او خپلی ګوتی دهغه پرشونډو باندی کښیږدی په پوهیږی چه دا څوك دی او آخرنی ملاقات ئې کوم وخت ددې سره کړیدی .

هلن کلر چه په خپل ژوند کی ډیر تکلیفونه اور بړونه لیدلی او روزګار هم ددې سره په بیرحمانه ډول رفتار کړیدی لاهم ناامیده شوی نده دخپل مقصود او هدف په غرض چه هغه دخلکو رغبت او نوع پروری او ښو کاروته وو هیڅ یوه مصیبت چه به دا په اخته وه

«نور په ۲٤ مخ کی»

هیګل او....

« د شپږم مخ پاته »

یو مابعدالطبعاتی فیلسوف چه حقیقت په مکان کی لټوی .

شینګلر ټوله تاریخ پرمدنی ادوارو ویشلی دی . دی هر تمدن ته په طفولیت شباب ، مردانګی او زړتوب باندی قائل دی . او هر تمدن یو شانته خارجی حالات او نتائج لری .

دهر تمدن آغاز په مذهب او پای ئی پرسائنس کیږی ، په ابتداء کی ښارونه کوچنی او بیا پسې لویږی د زراعت څخه شروع کیږی او پرصنعت باندی خاتمه پیدا کوی . دساده مګر ښکلی فن څخه شروع کیږی او انجام هم هر بې معنی او کمزوره آرت وی .

ددې تمدن دورې مساوی عمر لری ، دی د ډیرو قرنو تاریخ فقط په یوه جمله کی ختموی او وائی :-

یونانیان دحدود قائل وه او د مغربی یورپ خلک د لا محدودیت ، ځکه نو د یونانی تاجرانو او ګوتونه لیری ځایو ته ونه رسیدل ، لیکن دمغربی یورپ او ګوتونه خپل بادوانونه دلیری لیری ځایو دپاره خلاص کړی وه .

شینګلر چه د تمدن کوم ادوار لکه : پسرلی ، دوبی ، منی او ژمی تاکلی دی ، هغه پرهر قوم باندی ښه نه تطبیقیږی ، ډیر ځله داسی لیدل سویدی چه یو قوم تر پسرلی وروسته دمخه تر هغه چه په دوبی ورګډ سی فیصله سویدی .

او همدغه رنګه د یوه ملك او قوم یو خاص تمدن نه وی ؛ بلکه په یوه خاصه دوره کی د یوې خاصی طبقې یو خاص تمدن وی ، په یوه ملك کی دمختلفو طبقو خلکو تمدن مختلف وی .

کلاسیک څه شی دی ؟

دښاغلی م،ا،ن ترجمه

او تصرف

موږ اکثره د کلاسیک لفظ اورو چه د خلکو په اظهاراتو کی استعمالیږی لکه داسی: د میلټن (پیرادایزلاسټ) یو اوی کلاسیک اثر دی.

یا « د انګلیسی ادبیاتو د کلاسیک په جمله کی دغه اثر ډیر لوستل کیږی ».

یا « داسی ناول خوښه دی منګر هیڅ کله کلاسیک کېدلای نسی ».

چه کلاسیک دغه ډول استعمالیږی نو له دې لفظ څخه په حقیقی ډول سره موږ څنګه معنی اخلو ؟

د کلاسیک یا « کلاسیکو » جمع نوم چه د ادبیاتو دپاره تر استعمال لاندی راغلی دی په اصلی کی له هغه وېشه څخه را پیدا سوی دی کوم چه د پخوانی روم د پېړیو د جمعیت خلک د جایداد له مخی پر پنځو کلاسو (طبقاتو) باندی وویشل سوه پدې یسې نو د کلاسیکس «رومی»، «کلاسیک» نوم د هغو پنځو کلاسو په جمله کی دی چه د هغه لومړی کلاس (طبقې) دپاره په استعمال کی رواج سو، له دې استعماله سره نو کلاسیک د « پرسټ کلاس » معنی یسې ور کړه.

ترمیلاد وروسته په دوهمه پېړۍ کی د کلاسیک لفظ یا « کلاسیکل » ددې دپاره استعمالېدی چه د قدیم یونان اوروم سترولیکوالو ته توصیفی امتیاز په ور کړی او په هم هغه وخت کی د دوی لیکنی د « کلاسیکز » په حیث سره پېژندل کېدلې.

په اروپائی ښونځیو او پوهنتونو کی تردا اوسو عصری وختو پوری لا د مطالعې اساسی موضوع « کلاسیک » وه چه هغه عبارت له هغو کتابو او لیکنو څخه وه چه د ادبیاتو د کلاسیکی دورو د یونانی او لاتینی مؤلفینو له خوا تألیف سوی وه دغه کتابونه نو د دنیا د ادبیاتو په جمله کی هغه « پرسټ کلاس » اثار ګڼل کېدله.

خواوس د کلاسیک د لفظ معنی وسعت پیدا کړی دی او د ټولو سترو ادبیاتو ومنلو شهکارو ته کلاسیک ویل کېږی نو ځکه پدې اساس د روسی کلاسیک انګلیسی کلاسیک، فرانسوی کلاسیک، ایټالوی کلاسیک، جرمنی کلاسیک او هسپانوی کلاسیک اثارو په باره کی ږغېدلای سوای په دغو یا نورو ژبو کی یو کلاسیک د هغه نثر یا نظم و کتاب ته ویل کیږی چه د وخت له ذوقو سره برابر وی دغه نو پدې پوری اړه لری چه موضوع به ئې ښه عالی وی او مکمل ادبی شکل به ور کول

« نور ئې په ۲۵ مخ کی »

لیکونکی: جبران خلیل جبران
مترجم: «نجیب»

له عربی څخه
«۲»

مضجع العروس

یا

د ناوی د خوب ځای

چه غیر له پیریانانو او پریانو څخه انسانان لار نه ورته لری او یا می پخپل پاك لاس سره مړه که چه په وفادارو مینو کښی سرلوړی او د عشق په دفتر کښی می نوم ثبت شی.

ګرانه سلیمه! راځه چه د شپې له دې تاریکی څخه استفاده وکړو او ژر له دې ځایه څخه ووزو ګوندی د دریاب پر غاړه باندی کومه بېړۍ پیدا کړو او ویوه نااشنا ملك ته سفر وکړو؛ معطلی په کار نه ده تر لمر څرك پوری ځان تر یوه ځایه پوری رسولای شو یقین وکړه چه د عیش او نوش زړه بایلونکی داسی بېخوده دی چه تر ډېره پوری به په موږ خبر نشی دا د غاړی قیمتی امېلونه د ګوتو ښکلی انګشترۍ او د لاسو الماسی وښی ماته د خوښی ژوند نشی رابخښلای او نه می پاك د عشق په لمبو سوی زړه غولولای شی.

زما مینه سلیمه! ولی خبری نه کوې او نه زما بېوزلی نتلی وخوا ته ګوری پر څه می د محبت په غېږ کښی ټینګه نه نیسې او د ځلبلانده زړه فریاد می له نژدو څخه نه اروی لکه چه زما د مېړه او مورو پلار پر ېښول دی د دې ناوی توب په کالو کښی وزړه ته نه لویږی ژر جواب راکه؛ او دا قیمتی وخت چه د الماسو تر ټو، ټو او د پاچهانو تر تخت زیات ارزش لری له لاسه مه باسه.

د ناوې خبری تر ژوند شیرینی او د مرګ تر غلبلو تر خې او وېرجنی دی د بڼ د مرغانو تر الوتو سپکی او د دریاب تر خروښانو موجو سهمناك دی.

ځوان له یوې خوا څخه د دې ودې زړه رېبونکو وینا ؤ ته غوږ نیولی ؤ او له بلی خوا څخه په زړه کښی له عشق او شرافت سره په کشمکش اخته ؤ عشق چه سختی د بری پستې کوی او د حمام له تور ګلخن څخه زړه وړونکی بڼ جوړوی په دې مبارزه کښی د ځلمیتوب او نفسانی غوښتونو ومخی ته ټینګ ولاړ ؤ د زړه بایلنی او محبت څراغ چه پاك خدای د انسان په زړه کښی بل کړی دی، آیا نشی کولای چه پر شرافت باندی دی چه بېځایو رسمو او د قیانوسی عنعناتو د انسان په دماغ کښی ځای کړی دی بری پیدا کړی؟

اما متأسفانه چه پسله څو دقیقو سکوت او تأمل څخه شرافت پر عشق باندی غالب شو او ځوان د فکرو اندېښنې له زنګانه

څخه سر اوچت کړ مخ ئې له
هغې خوار ځواکې هجران
زدې پېغلې څخه په ډېره بې-
پروائي سره واړاوه او د تانې په
ډول ئې ورته وویله: اې ښځې
کار تر کار تېر شوی دی بېرته
وخپل تاتوبی ته ولاړه شه او له
مېړه سره دی د خوښې ورځې
او شپې تیری کړه هغه د خوب
چرتونه او خیالونه چه ستا په
ذهن کښې نقش شوې وه ویښې
او هوښیارۍ تو له پرمخ محوه
کړه زما د دښمنانو دغه
خبری چه وائی به داخو هغه
بې شرمه او بې حیاده چه د مخه
ترودوزن ئې له معشوق او په
واده کښې ئې له مېړه سره
خیانت وکړ نه در باندې بیرزو
کېږی، دا به ښه وی چه زه خپله
لار او ته خپله لار ونیسی.
ددې خبرو له اروېدو څخه د
ناوې ښکلی بدن رېږدواخیست
او مخ ئې د نارنج به شان تک ژړ
شو په ډېر حزین آواز سره ئې
جواب ور کړ له ما څخه دا کور
پاته دی نه غواړمه چه په دې
زندان کښې خپل آزاد روح
بیرته محصور کړم د خدای روی
وګوره ما له خپله ځانه څخه

مه لیری کوه او د بې ناموسی
مردار ه تپله مې پر پاک روح او
پاک بدن باندې مه پرېږده د
عشق لاس چه زما ؤ ستا روح ئې
سره نژدې کړی دی د کشیش
تر هغه مردار لاس چه کالبد مې
ئې د مېړه و ارادې ته وسپاره
ډېر قوی دی په ډېر اخلاص سره
خپل لاسونه ستا په غاړه کې
دراچومه او خپل روح بیرته
ستا و روح ته نژدې کومه چه
د مرګ منګلی به ئې بیا د جلا
کېدو توان ونه لری.
ځلمی ئې په خورا بې پروائی
سره لاس له خپلې غاړې څخه
وکیښ او په ډېره تندی ؤ قهر
سره ئې ورته وویله: راڅخه
لیری سه له شکله څخه دی بېزاره
یمه ستا محبت ما دوخته له زړه
څخه ایستلی او د بل چا مینې
ته مې ځای پکښې ور کړی دی
خلګو چه څه درته ویلی دی
حقیقت لری اوس وپوهېدې
زیاتی مې مه ازاروه ورسه
له خپله مېړه سره دی د محبت
مزی تیـنګ که دې ستو خو
خبرو د بېوزلی پېغلی پر زړه
باندې سور اور بل کړ او په
خورا حسرت سره ئې خپلې

ملالی سترګی وځوان ته ور
واړولې بیا ئې د زړه د درد او د
محبت وېرجن داستان ورته
خپور کړ.
ستا د پټی مینی راز ما ته له
خمار و سترګو څخه معلومیږی
نو ځکه دی دا وینا وی د کومی
ناامیندی وینا وی نه دی چه
په هغه سره دی زما زړه مأیوسه
شی په تش نژدې کېدو سره
دی د عشق جاذبې زما په ټول
بدن کښې سرایت وکړ نو آیا زه
کولای شم چه له تا څخه دی
بېله شم یا به مې وینی تو یوې
یا به د خپل محبت په کوګل
کښې ځای راکوې، مقصد
دا دی چه ستا رضا عینی زما
رضاده نوری اوږدې اولنډی
خبری به نه سره کوو.
پر زړه سختی ځوان باندی
دې وینا ؤ کومه اغیزه ونه کړه
په لوړ آواز ئې وویله: اې ښځې
زما څخه لاس واخه د نارو کولو
او عالم خبرولو ته مې مه اړ باسه
که دی ډېر پتنګ کړم ټول
مېلمانه به سره له خپلې مینې
نجیبې در خبر کړمه چه نوم
دی په ټوله ښار کښې سره انځی
کړی او بله ورځ وچا ته له شرمه

پورته و نه کتلای شی .
دې وینا ؤ چه پر هغې باندی
کومه اغیزه و نه کړه او دې
زبانی تهدیدو د عشق اور مړ
نه کړ نو ځوان غیر له دې څخه
چه دا په زور له ځانه څخه لیری
کړی بله چاره و نه لیدله خبره
چه وزورته راغله د ناوی مخ
له قهره څخه سور او شین شو او
خپل وضعیت ئې له ملایمی څخه
وخشونت او بې حیائی ته واړاوه
د خروښانه سېل او قهره من
زمری په څېر سره ئې په زوره
وویله :-
کومه بېغله چه پسله ما څخه
ستا له محبت او نوازش څخه
برخوردار کېږی، کوم زړه
دی چه په غلا سره ستا د عشق له
میو څخه مستیږی زما د خپل
مین عشق او محبت پر بل چا
نه پیرزو کېږی او نه دا روحی
اضطراب اضافه تر دې زه
زغملای شم .
دا ئې وویله، او سمدستی ئې یو
تېره خنجر له لستونی څخه را
وکیښ او د سلیم په سینه کښی
ئې ښخ کړ چه د هغه له اثره څخه
پر مځکه چپه شو او د بسمل په
ډول سره په وینو کښی تپېدی

د ناوی د مخ موښلو او اوښکو
د څاڅکو د څڅېدلو په احساس
سره زخمی سلیم سترګی لږ
څه خلاصی کړې او د شونډانو
په ښورولو سره ئې وویله :-
اې زما محبوبی لیلا ! را نژدې
شه ما یوازی مه پرېږده اوس را
معلومه شوه چه ژوند و مرګ
ته هیڅ شی نه دی او د عشق په
مقابل کښی کوم ارزش نه
لری .
ګرانی لیلا ! د خپل واده د
مېلمنو وخندا ته ښه ځیره شه
او د شرابو د جامو و آواز ته ئې
غوږ ونیسه .
مینی لیلا ! زه چه دی د خپل
مین تابه په خنجر سره د زړه پر
سرو وهلم او د دوی د خندا له
ستړیا، یا د میو له تلخی څخه
دی نجات را کړ لطفاً زما
صمیمانه تشکر په دې مورد
کښی قبول او خپل مبارک
لاس د مچولو په غرض سره را
اوږد کړه .
اې د عشق او محبت فرښتې ! زما
په شونډانو پوری چه د حقیقت
د اسرارو پوټونکی وه خپلی
سترګی و موږه کله چه روح
می د بدن له محبس څخه آزاد

شو او د لوړی فضا و لوړ عالم ته
والوتی نو دا زما په وینو ککړ
شوی خنجر چه د دنیا ترقیمتی
الماسو زیات قدر لری زما و
اړخ ته کښېږده او وخلګو ته
ووایه: چه سلیم د ژوند له
بدبینی او ناامیدی څخه خپل
ځان وواژه .
ګرانی محبوبی ! زما پیرزوینی
او ستا بې ځایه غولیدلو ما ته
پر ذکر سوو خبرو زړورتوب
را کړ مګر دا وزړه ته واچوه
چه د ژوند تر دې اخیرنی وخته
پوری ما غیر له تا څخه له بل چا
سره د محبت تړون نه دی کړی
ستا د افدا کاری چه د دې واده په
ورځ کښی دی و کړه د ډېر
تمجید او نمانځنی وړده .
وفاداری ناوی ! د دې وینا ؤ په
آخر کښی سر د فکر له زنګانه
څخه پورته کړ مخ ئې د سالون
وخواته وګرزاوه په لوړ آواز
ئې وویله :-
اې خلګو راسی ء زوم او ناوی
دلته دی، دا هغه ځای دی چه د
مین او مینی پاک روح د لوړ
عالم په حضور کښی راز او
نیاز پکښی کوی ویښ شی چه د
عشق او ژوند د مرګ پټ

اسرار در وښیم .
دې آواز بېخوده مېلمانه د
غفلت له درانه خوبه ویښ کړه
او په یوه عالم وار خطائی سره
ئې د سلیم د مړه جسد پر چارپېر
صفونه وتړله ددې وېرجنی
صحنې په لیدلو سره له ډېر حیرته
څخه د هر یوه سترګی له
کولکانو څخه راووتلې ژبی
ګونګی او رنګونه تک
ژیړ شوه .
د ناوی تندی ددې شهوت پرستو
خودخواهو انسانانو له لیدو
څخه تریو شو په خورا درد-
ناکه آواز سره ئې وویله :-
اې بې ننګانو را ژدې شی له
مرګه څخه مه تښتیء مرګ
له شرافت او پته سره ستاسی تر
نژدېکت په زرهاواره زیات
دی ، ددې سعادت له خنجره
څخه چه په لاس کښی مر تینګ
نیولی دی مه ډارېږیء دا هغه
مقدسه آله ده چه ستاسی له
ناپاکو بدنو او تاریکو سینو
سره آشنائی نه لری هغه شهوت
پرسته خسمان چه په ظاهره
انسان او په باطن کښی لېوه
دی نه مېړه کوم ، زما عزیز
مېړه او ګران معشوق دغه
نازنین بشر دی چه پخپل لاس
می دوینو سره جامه په واغوستله
او د بل عالم دازدواج تړون می
ور سره وکړ ، څنګه چه تاسی
په غلطو رسمو او ناوړو رواجو
سره ددې دنیا پراخه صحنه
پرموږ تنګه کړه نو ځکه ما او
مېړه د اوریځو وهاپلو ته د
سفر عزم وکړ .
اې په زړه تورو ! د خدای نور
زموږ دوو په پاکو څهرو کښی
له نژدې څخه وګوری او ربانی
نغمې مو د زړو له کومو څخه
واروی هغه شیطانه دو اندازه
نجیبه چه زما او دمین په میانځ
کښی ئې درز اچاوه او راز
راز خبری به ئې ودواړو ته کولی
چیری ده ، ورته ورایاست چه
راسی او زما دواده دا مجلل
جشن خپلو بد بینو سترګو
ووینی .
زه پوهېږمه چه تاسو ددې
داستان په پوټو اسرارو نه
پوهیږی نو وخپلو ماشومانو ته
خوئې په پوره وضاحت سره
وکړی چه زموږ رښتنی مینتوب
وستائی او ستاسی پر ظلمو
استبداد باندی چه له بېوزلو
سیاه سرو سره ئې کوی نفرت
ووائی .
په دې وخت کښی ناوی مخ د
مجازی مېړه وخوا ته راواړاوه
په خورا عتاب ئې ورته وویله :
ای ظالم او خدای ناترسه لېوه
تا زه د پیسو او تمول په دسیسو
سره ماینه کولم ته څومره
بدبخته ئې چه په توره تاریکه
کښی نور غواړې او له تورو کاڼو
څخه درونو او بو چینه جاری
کوی ، په خطا وتلم ته هغه ړوند
ئې چه د نورو په لارښود نه سره
حرکت کوی ته هغه درواغجن
ئې چه د غاړګیو په ور کولو سره
غاړی پری کوی .
اې د آزادو اروحو بندی-
کونکی ! وپوهېږه هغه روح
چه د ژوند له قیوداتو څخه آزاد
شو بیا کړی خطاوی او ګناهونه
هېروی .
په دې وخت کښی ئې خنجر
پورته کړ او په پوره قوت سره
ئې پخپله ښکلی سینه چخ کړ
د زنبق د ګل په ډول چه په لاره
ورېبل شی د سلیم له څنګه سره
ولوېدله .
د ښځو نری زړونه دې حادثې
ودردوله او دغم او ماتم آوازونه
له هری خوا څخه پورته شوه

د ښاغلی «افق»
ترجمه او تتبع

نومیالی پوهان

توماس اډیسن

دمځکی پر مخ ډېر عالمان او پوهان پیدا سویدی چه هر یوه ئې د خپل توانه سره سم د انسانانو د پاره څه نه څه خدمت کړیدی او ډېرو ئې خورا ښه او مهم اختراعات کړیدی چه هره هره اختراع ئې د بشری مدنیت د لوړېدو د پاره ښه مرستیال بولو.

نو بدې سلسله کی توماس اډیسن هم د امریکا نه بلکه د دنیا د نامتو مخترعینو څخه بلل کېږی.

د اډیسن پخپلو بېخی ډېرو اختراعاتو کی یوه مهمه اختراع د برق اختراع ده چه تر خورا ډېری زمانې پوری به انسانان د دې اختراع څخه ګټه اخلی.

اډیسن د ۱۸۴۷م کال د فروری د میاشتی په ۱۱ نېټه د اوهیو په ښار کی پیدا سوی دی. چه د زېږېدنی ځای ئې تر اوسه پوری لاموجود دی.

اډیسن چه د «۷» کالو وو نو ئې مور او کورنی توله و مشیګان ته ولاړه، او هورې میشت سوه. دی لا وړو کی وو چه پرده باندی د نبوغ علامی ښکاره وې خو معلم ئې هیڅ په ځراکت نه پوهېدی او غبی ئې باله نو به ئې همېشه تراټه او په عذاباوه به ئې، اما یوا ځی د ده مور د ده د اختراعاتو استعداد معلوم کړی وو نو ئې له مکتب څخه راویوست او په شخصی مطالعو ئې اخته کی اډیسن په خپله کوچنیوالی کی د نورو کوچنیانو څخه داسی ځان جلا کړی وو چه هغوی هر څه منل اماده په هغه وخت کی مشاهدوی او تجربوی عملیاتو ته د حقیقت په سترګه کتل. دی چه د «۹» کالو سو نو ئې د «پارګر» ولیکنو ته مخ وراړولی دی او دغه اولینه دروازه ده چه د ده د علمی ژوند د پاره خلاصیږی.

پارکر یو کتاب چه «طبیعی او تجربوی فلسفه» نومیږی په

«نور په ۲۶ مخ کی»

ځوانمرګی ناوی د ژوند په آخیر نیو سولګیو کښی وویله:
اې زما بدو یونکی! زموږ مړه جسدونه مه سره لیری کوی ء پر دغه حال ئې پرېږدی ء چه دا وږی مځکه پخپل زړه کښی ځای ور کړی او د ښکلو ګلانو د تخمو په څېر سره ئې له واورو اویخه څخه وساتی.
ای زما نازنینه مینه! د حاسدانو ټولی وګوره چه زموږ دا بدی خوب پر ځای باندی څنګه غونډه شوېده تا چه له ډېری مودې را پدېخوا زما انتظار یوست دادی دا بد له پاره ستا له پاره ستا له څنګه سره خیرامانه وغزېدلم.
دې وېرجنی صحنې ټوله حاضرین د حیرت په ګرداب کښی غوټه کړې وه او هیچا د تش حرکت او تشو خبرو قدرت نه درلودی بدې وخت کښی هغه کشیش چه د نکاح تړلو مراسم ئې پر ځای کړی وه را دمخه شو او د لاس په اشاره سره ئې ودوی ته خطاب وکړ هغه لاس چه ودې دوو جنایت کارو نعشو ته وروړه سی ترا بده پوری به ننګین او مبغوض وی هغه سترګی چه د دې دوو تبهکارو

غوړه مال شاعر

یوه شاعر د عربو د یوه بډای په وړاندی د مدحی قصیده ولوستله چه نوموړی ډېره ښه او په بدل کښی ئې وخپل لیکونکی ته د دلسو زرو درهمو د صلې ور کولو امر وکی.
مداح شاعر چه د صلې نوم وار-وېدی له ډېری خوشحالی او خندا څخه ئې خوله دوری هیسته ولاړه او د سترګو په اشاره ئې د تشکر اظهار ځنی وکی.
بډای چه دده دا هومره خوښی ولیدله نو د صلې مبلغ له لسو زرو څخه وشلو زرو ته جګ کی د شاعر چه د دا هومره مبلغ د بخښلو
[نور په پنځه ویشتم مخ کی]

پر حال چه شیطان ئې د مخه لا روح و جهنم ته استولی دی او ښلنی شی، په داسی سترګو کښی باید ایرې او خاوری وپاشل شی د دې دوو بې شرفو مردار لاښونه د سپو د خورک وړ دی او یا دا چه د ټولو د عبرت له پاره په عمومی محضر کښی وځړول شی. اې خلګو! بېرته وخپلو کورونه ولاړ شی او د دې

ګنهکارانو له مردارو اروحو څخه ځانونه ګوښه کړی چه شامت ئې وتاسی ته ونه رسیږی هر څوک چه دلته پاته شو هغه به د خدای د درګاه ترټلی او د حضرت مسیح د کلیسا له تګه څخه محرومه وی.
هغه سوسن نومی پېغله چه د ناوی پیغام ئې وسلیم ته رسولی ؤ را دمخه شوه په اوښلنو سترګو سره ئې د کشیش په مخ کښی په لوړ آواز سره وویله:-
اې دا نسانانو جلاده! زه د دې دوو نازنینو مینانو د قبر جوړولو فخرو ځانته حاصلومه د خدای روی وګوری ء ټوله له دې خوشبوئی فضا څخه لیری شی ما او خپل کار پرېږدی ء.
ګرده حاضرین د دې له دې زړه ورتوب څخه چه د روحانی پېشوا په مقابل کښی ئې وکړ په تعجب کښی شوه او بیا هر یو د خپل تاتوبی وخوا ته په حرکت کښی شو په دې وخت کښی سوسنی د عشق او وفا د ډاګ پر شهیدانو باندی د عقیدت ګلان نثار کړه او د دوی سرونه ئې پر خپل پاسته زنګانه باندی کښېښوو له. «پای»

د پښتانه مرګ

بناغلی ویران

چه په هند کی د لودیانو حکومت ؤو
د لودی «بهلول» دوران د سلطنت ؤو
د لښکرو لوی افسر ئې «فیروزخان» ؤو
دا پښتون سردار هر کوره پهلوان ؤو
جنګېدی ذ زمری په دوه غښتلی
یو و تلی شخصیت ؤ ذ ا بناغلی
یوه ورځ کیر سو په لاس د دښمنانو
هغو بوتی په تولی دا سیرانو
دده زوی «شاهین خان» هم ؤ بدې جنګ کی
لېکن مړ سو په میدان ذ نام ؤ ننګ کی
نور هم مړه سوه ذ فیروز سردار ملګری
د پر سرونه سوله پرې ، نسونه ځیری
د دښمن مشر طلب کړه دا سرونه
بیا ئې وغوښتل ددې تولو نومونه
فیروزخان ئې را حاضر کی پردې کار
چه نومونه د دې تولو کی اظهار
«فیروز» هم تېر کړه تر خپل نظر سرونه
او ویل به ئې د هر یوه نومونه

بدې لړ کې ئې را پورته د زوی سر کې
چه ئې وکوت نو ئې نوم صرف نظر کې

دښمن وویل: چه دغه سر د چا دی؟
فیروز وویل: هېر سوی اوس له ما دی

وروسته وویل: څو نورو دښمنانو
چه دا ځوان ؤ ډېر غښتلی تر سیالانو

د جنګ خوانه ئې هیڅ شا نه ګرزوله
او پر موږ به ئې وسله ښه چلوله

موږ ونه لیدی تر پایه په جنګ ستړی
په حیرت ؤ چه بریښنا ده که وګړی؟

غلیمانو چه تمام دغه بیان کی
نو «فیروز» هم دخپل زوی شهرت عیان کی

ویل: دا خومی ځلمی بچی شاهین دی
دده مرګ وړ د تحسین او آفرین دی

دښمن وویل: لومړی څله انکار سوې؟
څه سبب دی چه بیا اوس په دې اقرار سوې

فیروز وویل: په جګ سر چه دښمنه!
پرې ښوول می بې جوابه ستا پوښتنه

ځکه پوه نه وم د خپل زوی په مېړانه
ما وې مبادا چه مړ وی په سپیتانه

نو چه دی ځن قربان سوی په غیرت ذی
دا می ډېر لوی افتخار او هم عزت دی

پښتانه د بې ننګۍ په مرګ شرمیږی
د غیرت په مرګ هر ګوره هوه سیږی

زه به داسی د شرف تر مرګ چارېږم
د خپل ګران بچي په مرګ به تل نازېږم

ښاغلی محمد ابراهیم
[خواخوږی]

کوچۍ

پېغله

کوهکران کلی شمال کی
ارغنداو د رود پر غاړه
کوچنیان وه په غال مغال کی
د کوچو کېږدۍ ولاړه
مړنۍ پېغله سنبال کی
وې ځلمیه په ما وېاړه

لب سیرین، پوډر می نسته په عفت باندی ښایسته یم
پښتنه پېغله یادېږم عصمت داره آراسته یم

تور پوړنی می پر سر دی — لڅ مخ ګرزم هری خواته
حق ښکاره نن لکه لمر دی — پرڅه سی له ما څه پاته
زما مانۍ او کورجګ غر دی — هیڅ احتیاج نه لرم چاته

اما پوهه چه می نسته په یقین خواره خسته یم
که هر څو د پښتانه د بڼ نهاله نو رسته یم

بغره نه لرمه ګرانه! — سپېڅلتیا می توره، ډال دی
نه بېرېږمه له چا نه — پښتونواله مې اعمال دی
شرافت باندی اې ګرانه! — زما ټول وجود سنبال دی

آه دژوند ښه پسرلی دی لېکن جهل په دام بسته یم
حقیقت تر اوهام جار سو دنا پوهو ګلدسته یم

ښاغلی فضل محمد [فضلی]

زړه می څه غواړی؟

نوری ستر کی شهلا غواړی زما زړه
د ماهرویو وفا غواړی زما زړه

منکر نه دی تل له مینې هوښیار اوسی
همېش خپله لیلا غواړی زما زړه

دائې هیله چه مین وی اوزخمی وی
له بې دردو فنا غواړی زما زړه

دځیګر په تاریکۍ ئې نفس تنګ دی
د سپین مخو رڼا غواړی زما زړه

په ښادی کی هم شرکت کوی ښادمن وی
خوشالی د هر چا غواړی زما زړه

د یتیم او غمزده وو همنوا وی
د هغو تسلا غواړی زما زړه

کله غواړی چه قصاب ئې قصابی کی
کله بیرته دوا غواړی زما زړه

هم درد غواړی هم علاج زه په حیرت یم
چه پرځه هره خوا غواړی زما زړه؟

چا به داسی لیونتوب لیدلی نه وی
هم نجات هم بلا غواړی زما زړه

له دو رنګو آشنا یانو توبه ګار دی
نه لباس؛ نه دنیا غواړی زما زړه

کیله نه کیږی هیڅکله د بیعقلو
کیله تل له دانا غواړی زما زړه

دغه زړه دی ذ [فضلی] د هیلو ډک زړه
چه هم هغه، هم دا غواړی زما زړه

بناغلی ویران

قلندر

د مخه نږدې چې داسې یې چا وپېژنو د اخبره د یادولو وړ ګڼم چې: موږ د خپلې خاورې یې ځوړمره، ګوښواو کونجو کې شاعران، د ژبې او ادب څښتنان او عالمان اروچې لکه خزانې ترخاورو لاندې پټ پاتې دي، د امتحد المالة خبره هم کوم چې د پښتنو دښمنانو او استعمار پوښتو ځلددوی د برغلو یې وجه څه د کورنیو جګړو او بې اتفاقیو یې وجه چې همېشه یې ئې ورسره مخامخ کړي رو نه یو پرې ایښې چې خپل ژوندنه د علمي، اجتماعي او نورو ضروري چارو له پلوه څه سر او سامان ور کړو.

که موږ پخواني خپلو تواریخونه اشاره ونه کړو او یې لنډ دول د «نادر افشار» د برغل څخه بیا تر سقوی اړ ؤدود پورې چې زموږ درې سوه کلنې ژوندنشکیلوی د ارخت یاد کو آیا لږ علمي او ادبي ذخایر یې موبیخایې سوی یا له منځه تللی وی؟ آیا لږ عالمان، ادیبان او شاعران یې مو د معدومیت و ارهد نه وریوری وهل سوی وی؟.

یا د ولس د بېسوادۍ او بې قدرۍ دلاسه هغسې لکه د دغو علماؤ، شعراؤ او ادباؤ بد نونه چې تر خاورو لاندې دي هم دغسې د دوی قیمتي آثار دلاسه ونلی او راڅخه ورک دي، کنه د دې مملکت یې ریکو کې، د دې هیواد یې سمه ؤغر کې او د دې وطن یې کلو او ښارو کې فاضلان سته، شاعران سته عالمان هم.

خو داسې سته لکه د بحر یې ته کې چې غمیان سته ګرندې او تکړه ملاحان غواړي یعنې د ځوانانو لیکوالو یو اوږد فرصت او یو متحمل همت غواړي چې دا کار و سرته ورسوي. خو باید ووایم چې اسانه کار نه دی، د مثال یې ته وګه تقریباً «۸» میاشتې یې کیږي چې غواړم د کندهار د یوه نامتو شاعر «شو» څه بشپړ اثار او هم دده مکمله سوانح لاس ته راوړم نه یم موفق سوی دا ځکه چې یا فرصت نه وی یا داچې هر څوک د دې موضوع سره علاقه نه لري کوم کسان چې د دې کار اهل دي هغه بیا د یوه نیمګړي ذوق څښتنان وی، سره دهغه هم د دغو ځوانانو یې توجه بې څه هم نه یو یا نه سوی.

خپل مراد نه یې راوړم:-

نن «قلندر» د پښتو ژبې یو خوږ ژبې شاعر د مجلې ګرانو لوستونکو ته یې لنډ دول معرفي کوم او دده پېژندګلوی د بناغلي مولـــوی کمال الدین یې مرستې چې د نومورې شاعر او عالم شاګرد دی لیکو.

لکه د مخه چې مو وویل چې د دې مملکت ریکونه او غرونه هم شاعران لري او دادې چې بولهدغو

شاعرانو څخه «قلندر» دی نوموړی شاعر د فتح محمد زوی د میر حسن لمسی وسپین بولدك ته نژدې د «کونچی» نومی ځای اوسېدونکی او په خټه اڅکزی ؤ، قلندر په ۱۲۸۱ ش کال پدغه سیمه کی زو کړی وو کله چی ئې سن وهغه حد ته ورسېدی چی زموږ په اصطلاح بایدیو توری زده کړی نو وسبق ته وګمارل سو او پدغه کوچنی-والی کی ئې د کندهار د شاؤخوا علماؤ څخه په خصوصی توګه عربی، پارسی او هم پښتو تعلیم کاوه دهغه په وروسته د پخوانی هند یا اوسنی پښتو-نستان و «پښین او کویټې» ته ولاړ پنځه کاله ئې هلته سبق ووایه، دوه کاله ئې په «بهو-پال» او پنځه کاله ئې بیا په ډیلی کی تحصیل وکړ د عربی علومو ئې دومره تحصیل اوزده-کړه وکړه چی د قلندر څخه مولوی جوړ سو او له دې وروسته به ده و خلکو ته درس کاوه د بده مرغه چی مرګ مهلت ورنه کړ په هغه ډیلی کی چی ۱۳۱۱ ش کال ؤ د ۳۰ کالو پر سن ځوانی مرګ سو اوس د ډیلی د جامع مسجد په هدیره کی ښخ دی.

دا پښتون شاعر د ډیلی د تعلیم څخه وروسته غوښتل چی د لوړو تحصیلاتو په غرض و مصر ته هم سفر وکړی چه ګواکی دا هیله ئې هم مرګ تر خاورو ورلاندی کړه.

مرحوم قلندر شعرونه هم وویل د شاعری سویه به ئې څو کرښی وروسته در معلومه سی البته یو متوسط شاعر به ئې وبولی ء خو داسړی پرته لدې چی د پښتو او پارسی ژبی داسی شاعر ؤ چی د ېوانونه ئې درلودل او هغه اوس د هندوستان په پراخه مځکه کی ورك دی د منطقو ښه ملا هم ؤ داسی ملا چی د منطقو پر ځینو کتابو ئې شرحی هم لیکلی دی چی هغه تر اوسه ندی چاپ سوی او هم ئې څو رسالې جوړی کړی دی.

د دې په وروسته چی قلندر کله د شاعر او کله د یوه ملا په حیث وپېژنو، نوموړی به د اعلاقه هم ساتل چی اخبارونه، مجلې او تاریخ دی مطالعه کی او د سیاسی اشخاصو سره دی وپېژنی.

د وطن په اخیرنی انقلاب کی چی قلندر ژوندی وو پدې مناسبت ئې څه اشعار هم ویلی دی او داسی کور خرابونکی ارضاع ئې غندلی دی نور اشعار ئې چی اخلاقی، اجتماعی او تصوفی هم پکښی موندلی کېږی سته ډېر ئې غزلیات دی چه د کتلو او لوستلو وړ دی.

لدې جملې څخه صرف دا څو پار چې غزلیات چی د ده د اشعارو څخه مو را بېل کړه د نمونې په ډول وړاندی کوو ښائی چی ګران لوستونکی به ئې خوښ ولری :-

لومړی غزل

نن پر طرف د چمن د بلبلانو ژړا
د ګلو څوکی وهی خزان په تیغ د جفا

یم په مثال د مجنون — محمة صحرا ته بیرون
په رسوائی کی زبون — کله به راشی لیلا

خال دی د ورځو پر سر — بانو دی تیز تر خنجر
زخمی دی کړم پر ځګر — را کړه د لبو دوا

ګرزم په سوزو ګداز — دوزخ پر سر د مجاز
کله شهین کله باز — د زړه په وړو دلربا

په څه ادب و په ناز — د څنګه ځی د غماز
کله به راشی ایاز — چه ئې محمود شی ګدا

ته ئې د زړونو صیاد — هسی بیرحمه جلاد
مدام په بغض ؤ عناد — قتلوې هر بیګناه

د یار د مینی سقر — پاس می بلیږی پر سر
زه په نامه «قلندر» — وسو افسون دی په ما

دوهمه

نن بیا شانه ورانه راځی څومره په کبر ؤ په ناز — رنګ ؤ جمال ئې ممتاز
ژاړی سلطان محمود — که ئې پوره سی مقصود
په غلامی که ئې قبول کی زر خریده ایاز — رنګ ؤ جمال ئې ممتاز
چا څه کاوه محبت — غواړی آزاد فراغت
د یار له دره پر عشاقو باندی کیږی آواز — رنګ ؤ جمال ئې ممتاز
مخ ئې کعبه ده زما — خط ئې حطیم شاؤخوا
خوله ئې زمزم و تشنګانو ته د اهل حجاز — رنګ ؤ جمال ئې ممتاز
د عاشقانو خندا — د مهرویانو وفا
لکه بلبل چه سپین سهار پر ګلو کاندی پرواز — رنګ ؤ جمال ئې ممتاز
لاندی زنخ کوه طور — ور له ور ځمه ضرور
زه «قلندر» لکه موسی ورځم په رازو نیاز — رنګ ؤ جمال ئې ممتاز

دریمه

چه پر غولی دخاطر د ناز قدم ږدی
د دوو سترګو پر دوکان ګهر دنم ږدی

انا الحق هغه منصورو نـه ښائیږی
چه ئې وینی پر زمین باندی رقم ږدی

دقیامت تر صبح پروت وی په وصال کی
مخمور کله پر زړه خیال د صبحدم ږدی

پس له مرګه به جنت ته نسی پورته
که په قبر کی دلدار ورسره سم ږدی

زلیخا غوندی به وزی لـه عصمته
که پر زړه څوك د یوسف دمینی غم ږدی

«قلندر» غوندی به ډیر ډیر ځګر خون سی
چه پر زړه ئې نېښ د دوو زلفو لړم ږدی

څلورمه

احسان دی نن د ما سره سو کم ولی تازه
نهال د زړه ریبې په لور د غم ولی تازه

که هر څومی پټ وساته له خلګو راز دمینی
چغلی کوی تر سترګو د زړه نم ولی تازه

خولې د یار دمخ که دعسلو غوندی نه وای
بو را به وړای د ګلو څـه شبنم ولی تازه

رخسار که دی په مثل د اور نه وای دلربا
زلفان دی سوی تور او پیچ ؤخم ولی تازه

مجنون غوندی که نه ئی په مرض د عاشقیء
لیلا ئی ږدی پر زړه باندی مرهم ولی تازه

ستالافی په رشتیا دی «قلندره» په یاری کی
که نه وای، معاون دی سو قلم ولی تازه

«هلن کلر»

«داوم مخ پاته برخه»

دائې خپل د مقصود څخه منع نکړله . دا د لوی روح درلوونکی وه یاس (ناامیدۍ) نشوای کولای چه دا مغلوبه کړی ددې ژوندون ئې کورټ ورپرېشانه کړی ندی دالکه «غواص» چه غوټې خوری د مصیبتونو د سیند په څپو کښې ئې ډیری غوټې وخوړلې لېکن تسلیم نسوه .

هلن کلر تراوسه پوری یوولس کتابونه لیکلی او په زرو مقالې ئې په امریکائی او اروپائی مجلو کښې خپرې شوی او نشر شویدی .

هلن خپل د ژوندون هغه ډېره ښه خاطره «زما د ژوند سرګذشت» په کتاب کې دا ډول تعریف کړیدی هغه وخت چه ما وغوښته لومړی جمله ادا کړم دامی وویل: چه زه ګونګه نه یم ډېره خوښی او خوندمی احساس کړ چه د وړو کتوب په نېټه کی به تر دغه لویه خوشحالی پر ما راغلی نه وی نو لکه کوچنی الوتونکی مرغه داسی وم چه تازه پرحال راسی او د امر دوړانګې وخوانه الوتنه کوی او غواړی چه پر کوم ښاخ کښینی، هلن کلر د لیک او لوست او سواد زده کړه د ټولی نړۍ دړندو او کنو د پاره میدان ته راوایستله او نن ورځ ددې خدمت د فرهنګی شخصیت او پوهنی د ارزښت له نقطه نظره بین المللی جنبه لری .

هلن کلر د جهان دړندو د تعلیم او لوست زده کولو د پاره لار خلاصه کړې ده، همدغه نابغه ښځه چه د بشر عقل ددې و کارو ته حیران پاته دی په ۱۸۸۰ میلادی کال کی زېږېدلې ده او ترنن ورځی پوری ئې د ډېرو ناراحتیو سره په خپل ژوندون کښې په خوشحالی سره ژوند کړی او د ژوندون څخه هیڅ شکایت نه لری .

دا اتیا کاله عمر لری او په اثبات ئې رسولی ده چه د بشری د ښمنانو څخه ړوند واله او ګنټوب او ګونګ واله او زړ والی دی د غوشیانو هم ودې ته هیڅ بېره نده تولید کړی دا ښځه د یوه فوق العاده عزم خاونده ده تل د بشر خدمت او د خلګو د بهبود او ښه والی په فکر کښې ده د نړۍ ټول خلګ چه دا پېژنی او یائې ددې کتابونه لوستې او یائې ددې خبری اتری اروېدلی وی نو هلن کلر یو پاک او سپېڅلی موجود بولی .

د انګلیسی څخه د ښاغلی م.ن ترجمه او تصرف

قطب مینار

د ډیلی په ختیځه سهیلی خوا کې «۱۱» میله لیری یو لړ یادګارونه دی چی د تاریخی پلوه د لیدو وړ دی لکه د قطب الدین ایبک د قوت الاسلام ماجت او د هغه لوړ ښکلی مینار د التمش شمس الدین قبر او مدرسه او د علاؤ الدین خلجی الحاقیه څرنګه چی زموږ مراد د قطب مینار دی نو به یوازی دغه تاریخی مینار پسې را واخلو :-

دا مینار خورا لوړ مینار دی چی د هغه د برج څخه یو وخت د یرغل کونکو د لیدو د پاره کار اخیستل کېدی خو نن ورځ په یو جهان خاموشی او عظمت سره د ډیلی او د هغه د شاؤخوا او سېدونکو وفعالیتو ته *

* ګوري د نوي او زوړ ډيلي دلته ښه تماشه کېږي، که څه هم دا مينار د ټکو او زلزلو په وجه تاواني سوي دي سره د هغه هم دده عظمت او ښکلا نن د خلګو زړونه ور کشوي او خلګ د ليري ليري ملکو څخه دده و ليدو ته راځي.

دا مينار په هغه ماجت اړه لري چې هغه «قوت الاسلام» نوميږي د مينار په جوړېدو کې دوه مطلبه وه يو دا چې پر کفارو هيبت پرېباسي او بل دا چې د اذان زغ دده له ارتفاعاتو څخه براډ کاسټ سي.

شك نسته چې مينار په ۱۲۰۰ ميلادي کې قطب الدين ايبك جوړ کړېدي او داسې ليکنه هم پرسته «امير د اميرانو ستر قوماندان او د قطب دايالت مشر» خو هندو مذهبو ليکوالو کوښښ کړېدي چې د قطب مينار ديوه هندو د لاس نخښه معرفي کې او ددې خبرې د پاره داسې دلائل هم راوړي: وائي پخوا دا مينار «پريتوي-سټمپ» نومېدي «پريتوي-راج چوهان» په هند کې آخيرينې هندو حاکم ؤ او ده ددې مينار په جوړېدو سره د خپلې ګرانې ماندينې داهيله «نور ئې په ۲۷ مخ کې»

غوړه مال....

«د ۱۵ مخ څخه پاته»

آواز تر غوږ شو خوشحالي داسې زور پرو کې چه په پای کښې د لېونتوب چمونه ځنې کېدله بډای به سم دده د خوښي سره د صلې د زياتولو امر صادر اوه څو چه په پای کښې شاعر ته له ډېرې خوښۍ څخه خونې ځای نه ور کاوه د باندې ورتې ليکونکي «منشي» دا وخت غنيمت وګاڼه و بډای ته ئې مخ راواړاوه او ورته وې ويله:-

باداره! دا څه اصراف او بېځايه بخشش دي چه پر تشه قصيده باندې دي دې شاعر ته ور کې.

بډای په جواب کښې ورته وويله ته خو ډېره ساده ئې ده پخپلو اشعارو چه تو له درواغ دي زه خوشحاله کړم مخ مې د څور لسم تر سپوږمۍ ښايسته وباله او په دلاوري کښې ئې زمري غوندې حيوان تر ماپوري هيڅ کې ژبه مې ئې هومره تېره تصور کړه چه تو ره لا پرېکوي نو دده د دوني درواغو په عوض کې ما په تشو وعدو سره دي خوشحاله او له سده وايستيء او يقين لرم چه دده خوشحالي به تر ماسل چنده ډېره وي. «له خارجي مطبوعاتو څخه ژباړه»

کلاسيك څه....

«د نهم مخپاته»

سوي وي، لدې سره سم چه يو اثر تر اساسي انتقاد راووزي او د ولس ذوق قضاوت پکښې وکړي نو بيا ځانته يو معياري حيثيت پيدا کوي او د عالي ادبياتو ذوق په خلګو کې پر ژوندراولي او پکښې تيتوي ئې. مثلاً په شوروي اتحاد کې د «پوشکين» آثار، په فرانسه کې د «راسين» ليکنې، په ايټاليه کې د «پيترارچ» آثار په جرمني کې د «ګوټه» ليکنې ډېر نامي شاهکارونه لري چه په ادبياتو کې کلاسيك ورته ويل کېږي، دا انګليسي په کلاسيکو آثارو کې د شکسپير ډرامې او د «سپنسر» اشعار او نوري ډېري داسې ليکنې شاملې دي. «لوويل» وائي: يو کلاسيك هيڅ کله نه پخواني دي نه اوسني بلکه هر کله داسې نوي دي چه زړېده نه مني.

« د ۱٤ مخ پاته »

زرهاؤ تجربې او عملیات لري کښلی دی او دا ډیسن د مشکلاتو د حل د پاره ئې پوره کومك کړی دی د موادو د ګډولو قوانین ئې ځنی زده کړه او د کیمیاوی عملیاتو د پاره ئې ښه ځان چمتو کی څو په آخر کی ده هم کیمیاوی مواد سره ټول اورا اړول عملیات او تجربې ئې ډیری وکړې او په خورا کامیابی سره مخ په وړاندی روان وو دلته ئې مور ورته وویل: چه زویه یو لابراتوار جوړ که او هورې خپلی تجربې کوه، ده هم دا خبره خوښه کړه او یو خوار زور ور لابراتوار ئې جوړ کی چه هر ډول تجربې پکښی کېدای سوای. اما خبره داده چه د مور او پلار واقتصادیاتو ته ئې فاحش تاوان ورواړاوه پداسی حال کی چه دغه ډول ځوانانو به کارونه کول او خپلو پلرونه به ئې پیسې ورګټلې نو ده ته هم پلار وویل: چه زویه ستا تجربې خورا ډیری دی په مصرف ئې موږ خواران نه رسیږو، خپله غریبان خلک یو نو که دی کم

توماس .....

ځای کار ونیوی او پیسی دی وګټلې، خورا به ښه وی، هغه ؤ چه اډیسن هم داوسپنی په خط کی کار ونیوی، سهار به پر ۷ بجو تلی او د ماښام پر ۹ نیمی بجو به بیرته کورو ته راتی دده دغه کار هم خورا کامیابه ؤ خو د ذوقه سره ئې کم تطابق نه درلود په هر صورت سات بی په تېر وو که به نه وو پیسې به ئې لږ ګټلې او یا ډیری خو خبره داده چه دی مجبوره سو باید بل کار هم ونیسی او نوری روپۍ لا هم پسې وګټی، داؤ چه په ډیترویټ کی ئې دوه مرکزه ونیوله یو ئې هغه د ګاډی کار وو او بل مرکز ئې د سبزیجاتو دوکان وو مزدوران او ملګری ئې نور هم پیدا کړه چه باید دده سره کومك وکی.

دلته اډیسن ښه پوهېدی چه که څه هم پیسې ډیری ګټم اما دا چه د ذوق وپاللو ته نه یم خلاص نو ئې موقع ته کتل او دا به ئې ویل چه باید دا کارونه سپك کم یو لابراتوار او یا کمه شخصی کیمیاخانه راو باسم هغه وو چه کارونه ئې لږ کړه او باقی وخت به ئې ټوله په لابراتوار کی تېراوه هوری به د شپې او د ورځی بخت وو خو سره ددې ټولو ئې یو اخبار هم راایستی چه هره پاڼه به ئې په درې سیټه خرڅوله او په میاشت کی ئې ٤ سوه پاڼی راایستی سره ددې ټولو کامیابۍ او فیروزی بیا هم وتخنیکی الاتو او اسبابو ته متوجه شوی دی څو چه ئې د برق په اختراع ځان کامیابه کی.

نکل دی چه اډیسن او دده اډیوالانو د خپلو کورو ترمنځ یو تلګراف جوړ کړ او هغه ئې د یوه فلزي تاره څخه چه بوتلان ئې هم په کار اچولی وه جوړ کړی وو نو هغه وخت چه به اډیسن په ۹ نیمو بجو کورته راغی په هغه وخت کی به ئې د اډیوالانو سره مخابره شروع کړه او خپل احوالات به ئې سره ویل.

اډیسن د بشری ژوند د پاره خورا لوړ خدمتونه کړی دی او خورا ډیر اختراعات ئې ما بین ته راایستلی دی.

وائی چه تر ۱۹۰٤م کال پوری د اډیسن اختراعات وشپږ سوو ته رسیږی او تر ۱۹۲۰م کال*

قطب مینار

[د ۲۵ مخ پاتـه]

ترسره کړې وه چې هغې غوښته هره ورځ د یوه خورا لوړ ځای څخه د «جمنارود» ووینی خو د مینار بانی همدغه «پریتوی-راج» بولی نور نو هغه نظریات چې قطب مینار هندوئی تعمیر بولی دادی:-

۱- د مینار د لوړی طبقې دروازه وشمال ته ده چې دا د هندوئی تعمیراتی طرز عنعنوی طریقه ده خو د نورو طبقاتو دروازې ئې پر شرقی خوا مخامخ دی چې دا په خاص ډول د مسلمانانو تعمیراتی طریقه ده.

۲- مسلمانان خپل تعمیرات پر لوړو بردارو د کانچو جوړوی چې دا د هندوانو کار ناوی او تر دې مینار لاندی یوه داسی د کانچه نسته.

۳- په لومړۍ طبقه کی هغه کنګری هم د هندو مذهب علامات معرفی کوی چې اوس هم تیاری دی، او د مسلمانانو په کارو کی نسته. خو دغه لیکوال سره ددې دلائلو بیا هم وائی: چې البته دا مینار او دا ستره بنا د اسلامی شاهانو په تشویق او ترغیب جوړه سوی ده خو فنی هنرونه ئې د هندوئی انجنیرانو او صنعت کارانو په لاس رسېدلی دی.

داسی هم ویل کیږی چې «شمس الدین التمش» په ۱۲۲۰م کال کی دوهمه او دریمه طبقه جوړه کړې ده، نور طبقات ئې د قبې سره «فیروز شاه طغلق» په ۱۳۵۷م کال کی جوړی کړی دی، دا خبره هم سوی ده چې دا مینار یو وخت «۷» طبقې په ۳۰۰ فټه لوړواله ودان وو اوس «۵» طبقې په «۸ انچ ۲۳۳ فټه» کی پاته دی او «۳۷۹» ډبرینی څرخنده زینې لری چې د مینار وهغه لوړی برخی ته خلک ورخېژوی ددې طبقاتو لوړواله دهغو د زینو سره په لاندی ډول وېشل سوی دی.

طبقه	لوړواله	د زینو شمېر
لاندی طبقه	۹۵ فټه	۱۵۳ زینې
دوهمه طبقه	۸ نیم انچ ۵۰ فټه	۷۸ «
دریمه طبقه	۳ نیم انچ ۴۰ فټه	۶۲ «
څلرمه طبقه	۴ انچ ۲۵ فټه	۴۲ «
پنځمه طبقه	۴ انچ ۲۲ فټه	۴۱ «
پنځه طبقې	۸ انچ ۲۳۳ فټه	۳۷۹ زینې

د بېخ په حصه کی مینار ۴۷ فټه قطر لری او د سر په برخه کی ۹ فټه قطر لری، هره برخه د برنډې په توسط سره جلا کیږی. پدې بنا کی عجیبه نقاشی سته چې هغه د ختیځوالو د پخوانیو انجینرانو پر ښه فن شاهدی ورکوی سرې اعلی ډبری چه په نقش او نګار ښایسته دی په لومړیو درو برخو کی کار سوی دی په لوړو دوو برخو کی*

* پوری ئې تعداد و زرو ته رسېدلی دی. چه تر تولو مهم ئې برق، فوتوګراف، مکرافون، ګراموفون، اتوماتیک تلیفون او داسی نور اختراعات دی. توماس، ای، اډیسن پسله ډېرو اختراعاتو او خدمتو څخه د عمر پر ۸۴ یم کال په ۱۹۳۱م کی مړ شو.

* کار سوی دی په لوړو دوو برخو کی ئې مرمر کار سوی دی؛ د پنځمی برخی پر سر پخوا یوه ګنبته وه چی ۱۰ انچ ۱۲ فټه ارتفاع ئې درلوده دا ګنبته یو اردتکی په اثر تاوانی سوی او مینار څه نور هم زخمی سوی وو نو بیا په ۱۵۰۳م کال کی لودی اسکندر بېرته ترمیم کړه په ۱۸۰۳ کال کی بیا د زلزلې په اثر راونړېدله بیا هم بېرته [مېجر رابرټ سمیټ] چی یو انجینر ؤ په ۱۸۲۸م کال د ۱۷ زرو کلدارو په مصرف جوړه کړه بالاخره په ۱۸۴۸ [لارډ هارډنګ] دا ګنبته بېرته ایسته کړه او اوس مینار ته نژدې ولاړه ده، پر قطب مینار علاوه پر هغه چی د قرآن مجید آیتونه سته څه نوری لیکنی هم لری چی ترجمه ئې داسی ده :- « پیغمبر صلی الله علیه وسلم ویلی دی، هغه څوک چی د خدای « ج » دپاره ماجت جوړوی خدای به دغسی کور په جنت کی ور کی » د دوهمی طبقې پر دروازه ئې لیکلی دی: « د دې تعمیر تکمیل د التمش په حکم وسو » د دریمی برخی د دروازې پر سر لیکلی دی: « د دغه جوړېدو امر د التمش په وخت کی صادر سو » د پنځمی طبقې پر سر لیکلی دی: « دا ماڼۍ د فیروز شاه په وسیله جوړه سوه .

لکه دمخه چی مو وویل د دې مینار د سر څخه د دښمنانو قوتونه ښه لیدل کېدل، خلجی او تغلقی پاچهانو له دغه لوړوا له څخه د دوست او دښمن قوت لیدلای سوای مثلاً : محمود تغلق د دې مینار د سر څخه د ګوډ تیمور خیمې ولیدلی چی هغه د ډیلی دالوتکو په اوسنی ډګر کی اړولی وه .

نور نو هر څوک پوهیږی چی دا مینار د یوه ماجت مینار دی ، د یوه مسلمان پښتون پاچا په نامه دی ، پر مینار د قرآن مجید آیتونه چی په ډبره کی کار سوی دی او نور ډېر اسلامی علامات ئې د دې خبری تصدیق کوی چی دا یو اسلامی یادګار دی .

ښاغلی بېنوا

د روښانیانو مجاهدې

څه وخت چه ظهیرالدین محمد بابر وفات شو او په ۱۵۳۰ ع کال کښی د هغه زوی همایون په تخت کښېناست . پښتنو دوه ګرم تحریکونه په بېلو، بېلو سیمو کښی یو په بل پسې شروع کړل.

اول تحریک پخپله د هند په خاوره کښی ؤ چه مشر ئې فرید خان (شېر شاه سوری) وو او مقصد ئې د لودیانو د پښتنې کورنۍ له لاسه دونلی پادشاهی راګرځول او د لودی کورنۍ د وروستی پادشاه ابراهیم لودی انتقام اخستل ؤ څوک چه د پنځو سو وزرو پښتنو په ملاتړ د بابر په وړاندی ودرېد او په ۱۵۲۶ ع کال کښی د پانې د مشهوری جګړې په میدان کښی د بابر د لاسه ووژلی شو .

دوهم تحریک د پښتنو په خاوره کښی ؤ او هدف دا ؤ چه د پښتنو قومی یووالی مضبوط شی او د پښتنو یو څړګند او آزاد حکومت جوړ

شی ددې تحریك مشری بایزید
یعنی پیر روښان کوله .
شېرشاه سوری لس کاله د همایون
خلاف وجنګېد او خبره دې
ځای ته ورسېدله چه په وروستی
جنګ کښی همایون داسی
وار خطا او پکو شو چه د آس
په شاه سپور ئی سیند ته ودنګل
او که نظام نومی مشکی یعنی
سقاو پری نوی بېښ شوی نو
دده سیر دغلته تمام ؤ سره ددې
داخوو شو چه کوم لېونی سپېلنی
اګرې ته ورسېد نو د پادشاهی
په تخت ئې ډډه ونه لګېدله او په
ډېره وار خطائی د هند نه افغا-
نستان ته راغی او دلته ئې هم
لدې کبله چه افغانستان د
پښتنو ملك ؤ ګوزاره ونه کړای
شوه او ایران پلو ئې د شاه-
طهماسپ دربار ته مخه وکړه
او څو پوری چه شېرشاه سوری
ژوندی ؤ هغې پوری ئې په پښتنو
باندی حملې کولو ته زړه
ښه نه کړ .
البته څه وخت چه شېرشاه سوری
په هندوستان باندی د پنځه
کاله پادشاهی کولو نه پس
وفات شو نو همایون د شاه-
طهماسپ په کومك هند ته د
بیارانلو موقع وموندله خو عمر
ئې ورسره وفا ونکړه او یو کال
پس مړ شو .
د همایون په ځای ئې څوار لس
کلن زوی جلال الدین اکبر پر
تخت کښېناست او اکبر د خپل پلار
د انتقام اخستو په وجه د پښتنو
سره خپله دښمنی نوره هم
زیاته کړه ان تر دې چه په
۱۵۸۶ع کښی خپل رضاعی
یعنی د تی ورور زین خان کوکه
ئې د سر لښکر او د خپل دربار
لوی پوهاند راجه بیربل ئې د
نائب السلطنت په حیث د یو لوی
او وسله پور لښکر سره د پښتنو
د مځکی د نیولو د پاره وګماره
د اکبر لښکرو د استعماری
غرضونو پوره کولو د پاره او
پښتنو د خپلی خاوری د عزت او
آزادی ساتلو د پاره خونړی
جنګونه وکړل چه اخر ئې د
سوات او باجوړ په تنګو
درو کښی پښتنو د اکبر لښکر
راګیر کړ چاور سره د بربنډو
تورو جنګ شروع کړ او ځینو
پری د غرو د سرونو نه کر کنډی
را رغړولی دا حمله دومره
هیبت ناکه وه چه پیلان، قچری
او آسونه هم د تورېدل او یو
خوا بل خوا خواره شول .
پدې جنګ کښی راجه بیربل
ووژل شو لوی، لوی منصبداران
قتل او اته زره لښکریان ستړ
شول یوازی زین خان کوکه
د شپې د تیارې په برکت په تښته
را خلاص شو او په بد کړس ئې
د اکبر دربار ته ځان ورساوه
لکه چه مخ کښی مو وویل د
روښانیانو د تحریك مشر او سر
ویستلی سړی بایزید پیر روښان
وو دده د پلار نوم عبدالله وو
په قوم اورمړو او د وزیرستان
کاڼی کرم کښی اوسېده .
پیر روښان د علم تحصیل، د ملا
سلیمان کالنجری او ملا پایند
نه وکړ او بیائې د فلسفې د
زده کړی او نور علم د تکمیل
د پاره هند او د دریاب آمونه
هاخوا ملکونو ته سفرونه
وکړل .
دی خپل وطن ته پداسی وخت
کښی بېرته وګرځېد چه دده
د وطن یوه برخه د مغلو د یرغل
او تجاوز نښه شوې وه پیر روښان
یو هوښیار او وطن پرست عالم
ؤ او هغه چیری هم په خپله
خاوره د بېګانه ؤ تجاوز نشو
زغملی او دغه وجه وه چه د

تجاوز کارانو په خلاف را
ویاړول . د حیات افغانی لومړی
کتاب لیکونکی وائی چه:
بایزید به خپلو پیروانو ته ویل
چه مغل ظالمان دی او په موږ
ډیره ناروا کړی نو په کار دی
چه پښتانه د دوی د غلامۍ طوق
له خپلو غاړو وباسی او خپله
آزادی وساتی .
بدې طریقه پیرروښان کوښښ
وکړ چه په نرا وښځو، لویو او
وړو پښتنو کښې د هندوستان
د مغلو د پادشاهۍ د ظلم او تجاوز
خلاف د نفرت او کرکې جذبات
راولړزوی او د دغې علاقې پښتانه
د یرغلګرو خلاف راپاڅوی .
اخوند درویزه هم لیکلی چه:
پیرروښان به ویل چه موږ به
هندوستان اخلو او د اکبر
پادشاه ټولې خزانې زموږ مال
دی نو په آسونو سواره شی .
او له مانه چا پیرشی .
د خپلو ملي او قومي مقصدو د
تنظیم او پیاوړه کولو دپاره
پیرروښان باقایده خزانه لرله
او څرمه ـ ره ولجې چه به په
جنګونو او جګړو کښې د ده
پیروانو لاسته راوستلې دهغو
پنځمه برخه به دغې خزانې ته
چه د بیت المال به نامه یاد یده
وسپارله شوه او دغه خزانه به د
ضرورت په وخت کښې د رضا
کارو د ضرورت د پاره خرڅ
کیده . یوازې پیرروښان نه ؤ
چه د هندې مغلو د امپراتورۍ د
تجاوز خلاف ئې تبلیغ جاري
ساته بلکه هغه ددې کار د پاره
کښې او په ګوته شوی خلك
لرل چه د پښتنو د وطن سیمې
سیمې ته به ئې لېږل او خلك به
ئې د تجاوز کارانو خلاف
راپورته کول د دغې ډلې په
مشهورو کسانو کښې نومیالی
عالم ملا یاینده امته خان کوزی
چه لوی خان ؤ روانی د پښتو
ژبې لوی شاعر او د هغه دوه
ورونه ملا عمر او ملا علی محمد
مخلص او ملا دولت موندزی
شامل اود پیرروښان ټینګ او
غښتلی ملګری ؤ .
پیرروښان اول پېښور را ښکار
ته لاړ او هلته ئې د ملا دولت
موندزی په مرسته چه یو
مخور سړی ؤ په غله ډېر کښې
د مغولی (صوبه دار چه په کابل
کښې ؤ) برخلاف خپل تحریك
او ګرم تبلیغ جاری کړ خو
لیکلی اعلانونه ئې کابل ته
را ولېږل او پښتانه ئې د
صوبه دار خلاف پورته کړل نه
راوبلل نو دې چه دغه صوبه دار
مجبور شو او آخر ئې د یو لوی
لښکر سره د جلال آباد نه په
اشنغر حمله وکړه او د خو
ورځو پسې نښتونه پس پیرروښان
د تجاوز کارو له خوا ونیوی
شو او کابل ته راوستل شو خو
ډېر ژر د قوم پرستانو له خوا
ایله کړی شو او بیائې د
یرغلګرو خلاف په مجاهده لاس
پورې کړ .
داخل دی د نیرا غرنۍ علاقې
ته لاړ او هغو پښتنو افرادو ته
ئې سخته تغبیاور کړه څوك چه
د هندې مغلو د رشوتونو او
منصبونو په لالچ کښې راغلی ؤ
تاریخ مرصع وائی: چه د یارلس
سوو کسانو چه خپل لاسونه ئې
شاته تړلی ؤ ځانونه ئې پیر-
روښان ته حواله کړل دې نه
پس پیرروښان په نیرا کښې
ځای ونیو او د دغه ځای نه ئې
د یرغلګرو سره مقابله او مبارزه
شروع کړه .
د هندې مغلو ایجنټان او
ګوډاګیان چه په تیزۍ سره د
پیرروښان د تاثیر خوریدو نه

سخت په ریره کښې ؤ او په تیره تیره چه څه وخت د پیر روښان تاثیر د تیرا دغرونو دلمونه نه د یوسفزو علاقې ته هم وغزیده نو د دوی ویره نوره هم زیاته شوه او چه کله پدې پوه شول چه په زور او طاقت سره د دې قومی تحریک مقابله ګرانه خبره ده او چه څومره به د دوی قوت د پښتنو خلاف کار کاوه هغومره به پښتانه په زیات شدت او جذباتی انداز کښې راولاړیدل نو له دې کبله د هندی مغلو د امپراتوری په دربار کښې داسی طریقه تجویز شوه په کومه چه همیشه استعمارچیانو د پښتنو په مقابل د جنګ په طریقه د ناکامی نه پس عمل کړی او هغه دا چه پدې قام کښې ئې د بې اتفاقی اور ته لمن وهلی او د یو بل سره ئې په جنګ اچولی دی د هند د مغولی امپراتوری ګوډاګیانو تالی څټو ته هدایت او حکم ور کړی شو چه د پښتنو منځ کښې د بې اتفاقی اور ته ببوزی ووهی. دې ګوډاګیانو ملا درویزه د خپل پیر په اشاره د پیر روښان مقابلې کولو ته ولمساوه دې کسانو په پیر روښان باندی د پیر تاریک نوم کښېښو د هغه ته ئې د کفر نسبتونه وکړل او داسی تورونه ئې پری ولګول چه:-

ده ښځی هم مریدانی کړی دی او د عبادت په وخت کښې نر ښځی یو ځای کښېنوی دی د وحدت الوجود د نظر ئې قایل دی او هر څوک چه دده په ډله او مریدانو کښې داخل نه دی دی هغوی ته مېړه نه وائی او د هغوی مالونه خپلو مریدانو ته روا بولی او خپل مریدان د هغوی وارثان ګڼی د غسی ډیری زیاتی خبری ئې په هغو پوری وتړلې او چیرته چه به ئې دده کتاب خیر البیان موندو هغه به ئې سیزه او دې کښې شک نشته چه دې پروپاګنډونو او د مغلی د بابر ایجنټانو کوششونو د خلګو په خیالاتو څه ناڅه اثر وکړ خو پیر روښان د مغلو خلاف د خپلی مجاهدې نه لاس وانخست او پخپله اراده تینګ پاتی شو او د خپل مرکز تیرانه ئې د څو زرو سورو لښکر د ځان سره واخست د ننګرهار خواته راوخوځید او پخپلو دښمنانو ئې حمله وکړه او د بړو شاؤ خوا علاقې ئې تر لاسه کړی خو څرنګه د دښمنانو لښکر او طاقت ته د شادخوا نه پر له پسې او شیبه په شیبه ملاتړ رارسېده او پخپله حسن خان د پیر روښان مقابلې ته د ډېر زیات طاقت سره راووت نو نتیجه دا شوه چه د یو ډېر زیات خونړی جنګ نه پس د شینوارو په علاقه تور-راغه کښې مغلو ته زیات تازه طاقت ورسېد او میا روښان چه دا وخت ئې ټول قوت ختم شوی ؤ په کالا پانی نومی ځای کښې جل وواهه او وفات شو.

د مرګ نه پس د هغه لاش مریدانو اوچت کړ او په اشنغر کښې ئې ښخ کړ وائی چه دی په ۹۹۰ او ۹۹۴ هجری کلونو کښې وفات شوی دی.

یو بل روایت دا هم دی چه مریدانو بیا وروسته دده لاش د قبر نه راوایست په تابوت کی ئې واچاوه او د یو تبرک په څېر به ئې د ځان سره هر چیرته ګرزاوه چه آخر د ملا درویزه د مریدانو په لاس کښېوت هغوی تابوت ته اول اور واچاوه او د سیځلو نه پس ئې سیند ته ګوزار کړ پیر روښان مړ شو مګر د هغوی پاک تحریک دده د مرګ نه پس هم جاری پاتی شو او د پیر روښان د څوارلس کلن زوی جلال الدین په خلافت کی ئې لاقوت وصوند.

[نور د مجلې په بله ګڼه کی]

د ښځو نړۍ

څلور شیان

څلور شیان باید وړو کی وی لکه پزه، غوږ، تی او پښې .

« « « سپین « « غاښ، مخ، نور بدن او د سترګو سپین .

« « « تـور « « سرګی ورځی، باڼو او وېښتان .

« « « سـره « « شونډی، نوکان، باړخوګان، د تی سرونه .

« « « دغوښ ډك « « مخ، لېچ، غاړه، او نور بدن .

« « « ارت « « تندی، ځګر، اوږې، او سترګی .

« « « اوږده « « ونه، غاړه، ګوتی، او د سروېښتان .

« « « پـاسته « « لاسونه، مخ، د سروېښتان او نور بدن .

« « « نـرې « « شونډی، ګوتی، ملا او ورځی .

« « « ولـری « عقل، فکر، کورنی اهلیت او د اقتصاد علم .

« « « په باطن کی وی « عصمت، شرم، حیا، او عفت .

« « « ښه وی « ویل؛ تګ؛ اغوستل، او کول .

« « « په خپل ذات کی وی لکه: نجابت، تقوا؛ پاکی، او متانت .

ددې څلور وشیانو سره باید مینه وی لکه: مېړه، اولاد، دین، او خاوره . [تا کنه]

KANDAHAR

MONTHLY MAGAZINE

OFFICE:-

PRESS DEPARTMENT

KANDAHAR, AFGHANISTAN

EDITOR A.M-KARZI

NOVEMBER 22, 1961

GOVERNMENTAL PRESS